دمحمد عمر ننګیار لیکنه

# چاغ ښکار

تکنده غرمه  وه ګرمی ډېر په عذاب کړی وم ومې غوښتل چې ځان ژر کورته ورسوم دکار ځای ته نژدې دکان نه مې یو بوتل سرې اوبه واخیستې موټر جلو ته کیناستم مخ په کور روان شوم دلارې په اوږدو کې مې تنده ډېره شوه بوتل مې خلاص کړ او ښه ښآیسته ځو غړپه مې ترې وڅښل په همدې وخت کې د ترافیک دمامور دتوقف یا دردېدو اشارې مې پام را واړو بیرک ته مې پښه ورووړه دسرک ښي خواته مې موټر ودروه، ځان سره مې چرت ووهه لکه چې کومه خلاف رفتاري مې کړې ده!پوه نشوم دمعمول سره مې سم ټول اسناد دښاغلي لیدوته چمتو کړل، دی چې شل دیرش ګامه له مانه لیرې را روان وراورسید وروسته له سلام څخه یې راته وویل(پژالیسته داکومنت...) مهرباني وکړئ اسناد مو راکړئ.

په درښت مې اسناد ورکړل،خو ده اسناد هېڅ ونه کتل په ترخه ژبه یې رانه تپوس وکړ:خبرې کولای شې؟

ما ورته ځواب ورکړ:ګونګی نه یم.

هغه راته ښه په ځیر وکتل او بیا یې په خندنی ژبه وویل:

-پوهیږم ،خو د خبرو کولو حوصله نه لرې.

ما ورنه وپوښتل :ولې؟

ده په قهرجن غږ ځواب راکړ:

-دولې ځواب به په محکمې کې واورې.

زه حیران شولم چې خدایا په کوم جرم بیا محکمې ته مې خبره ورسیده؟

تپوس مې وکړ:

-جرم مې څه دی؟

په تندئ یې ځواب کړم

-ته لا په جرم دې نه پوهیږې؟! معلومه خبره ده چې په دې حالت انسان په ځپل جرم نه پوهیږي،کله دې چې سر سوړ شو بیا به پوه شې.

همدا يې وويل او خپل انډيوال ته چې دسړک بلې خواته يې موټر درولی و ورغږ کړ:

-هغه خوشې کړه دلته راشه.

ملګری يې په ژبه پوه شو دهغه موټر چلونکي اسناد يې وروسپاره او ګړندی يې مونږ ته ځان را ورسوه،همدا چې را نږدې شو په خندايې رانه تپوس وکړ:

دې ګرمی ته وګوره او بيا ستا څښلوته...څومره به دې څښلې وي؟ سترګې خودې وايي چې ښه پرېمانه.

دروازه مې خلاصه کړه ورښکته شوم داچې په يوه پښه څه معيوب وم يو دوه ګامه مې چې ور واخيستل چټک يې دلاسه ونيولم او بيرته يې دموټر د شاتني دروازې دلارې موټر ته ننيستم او په قراره يې راته وويل:

(ګراژدانين) همښاري(وطنداره)اوس خو هر څه ثابت دي څنګه دې خوښه ده...جوړېږو؟ پوهيږې جرم دې دروند دی او سزايې هم ښه درنده ده.

خدای شته وارخطا شوم چې دا په څه بلا واوښتم؟!په داسې حال کې چې وېرې مې غږ لړزوه ترې مې بيا تپوس وکړ:

-صاحبانو ،تاسې ولې ... راته ... نه وايۍ چې ... جرم مې څه دی؟!

داچې زما په غږ کې يې لړزه او ويره احساس کړه نور هم زړور شول او په کټ کټ يې وخندل بيا يې په خندنی بڼه را ته وويل:

ـلکه چې ډېر هوښيار در ته ځان ښکاري؟!... بې عقله ... مونږ سره لکه چې ټوکې د ې پيل کړي؟!په لاره تلی نشې سترګو ته دې وګوره او بيا هم تپوس کوی چې جرم دې څه دی؟!

پوه شوم دا چې زما سترګې په ګرمۍ کې طبيعتا سرې کيږي او په يوه پښه څه ګوډ شانتې يم،دوی تير وتې دي او بل ګومان يې کړی دی،ما هم ځان ورته برګ کړ ددوی غوښتنې مې ونه منلې نور يې ماته تمعه پاتې نشوه.نو بيايې څو پآښې تورې کړې او روغتون امبولانس ته يې تلفون وکړچې زمونږ په پټې راشي، ځنډ شيبې وروسته،امبولانس را ورسيده او دوی لکه بريالي وطنپال د واټ موظفينو په څير زه دامبولانس صحي کارکونکو ته ورووپيژندلم هغو هم په لومړي ليد کې څه د طمعې او توقع سترګې راواړولې خو زما له خوايې کوم شين څراغ ونه ليد په چټکۍ يې لازمې معاينې پيل کړې ډېر ژر دې نتيجې ته ورسيدل چې زه مجرم نه يم کله چې صحي کارکونکو نتيجه دوی ته وښودله،پرته له څه ويلو څخه يې زما اسناد راکړل،زه دخپل موټر جلب ته کيناستم،په داسې حال کې چې ما ته يې دلاسه وتلي ښکار په سترګه کتل په خپلو کې سره په بحث اخته شول وروستي خبرې مې ترې داسې واورېدې:

-(دورک) احمقه ولې دې رانه هغه بل موټر خوښې کړ؟دهغه چلونکي لايسنس تقلبي و.

بل يې په خپه غږ ځواب ورکړ:

دا ښکار راته چاغ ښکاريده.

ما خپل د اوبه بوتل په سر را وړو څو غړپه مې ترې وڅښل او ترې روان شوم،ښکاريان پاتې شول نوي ښکار ته.